

نورمحمد غفوری ۱۳۹۴/ ۱۱/ ۲۷

# گوند او انتخابات

**(لومړی برخه)**

نن په نړی او زموږ په گران هیواد افغانستان کي لږ تر لږه په ظاهره بڼه د دموکراسی او د هغې په لور د تلو خبرې رواني دي. زموږ په هیواد کي د دموکراسی سرسختو دښمنانو هم نن د بازار په نرخ د دموکراسی حجابونه اغوستي او د نړی دکتاتوران او دکتاتور نظامونه هم ځانونه دموکرات بولی او زیار باسي چي د دموکراسی نښي د خلکو په وړاندي ښکاره کړي. نو ځکه مي لازمه وبلله چي په دموکراتیکو نظامونو او ولسواکو پروسو په لړ کي په انتخاباتو کي د سیاسی گوندونو په رول رڼا واچوم.

غښتلی گوندونه او رښتینی دموکراتیک فعالیتونه یو له بله نه بیلیدونکی دی. دموکراسي په هېواد کي د گوندي فعالیتونو له آزادی پرته معنی نه لری او گوندونه د خپل فعالیت له پاره په ټولنه کي دموکراتیک نظام ته اړتیا لري. داسي چي دموکراتیک نظام او د گوندونو موجودیت او فعالیت د یوې سکي دوه مخه دي چي د یوه موجودیت له بل پرته د تصور وړ نه دی. هغوی چي دموکراسي غواړي، د گوندونو د فعالیتونو د شرایطو د جوړولو له پاره مبارزه کوي او د گوندي فعالیتونو د اغیزمنتیا د پلویانو مبارزه د دموکراسی له پاره د هڅو سره تړلي ده. داسي چي د گوندونو فعالیت او د دموکراتیک نظام موجودیت یو له بله سره تړلي او لازم او ملزوم دی. وایی چي گوندونه د دموکراسی اولادونه دي. همدا دموکراسي ده چي عامو خلکو او د ټولني عادي وگړو ته په سیاست او ټولنیزو چارو کي د گډون او د ټولنیزو طبقو او قشرونو له پاره د گوندونو او سازمانونو د جوړولو آزاد شرایط برابروي.

د دموکراسی له غوره مشخصاتو څخه یو هم انتخابات دي چې په دې پروسه کې ګوندونه حیاتی رول لوبوی. د انتخاباتو له لارې خلک د هیواد په سیاست کې او د خپل ځان او هیواد د برخلیک په ټاکلو کې ونډه اخلی. ګوندونه دا ونډه د هیواد د قانون جوړوونکو او واکمنی چلوونکو ارګانونو له پاره د مناسبو کسانو د ټاکلو له لارې غښتلي کوی او له ملي ګټو سره د خپلو طبقاتی، صنفی او ګروپی ګټو د انطباق بهیر تنظیموي. ګوندونه د خلکو تر منځ د مختلفو میلانونو شته والی ته د قانون په پولو کې نظم ورکوي، دلویو ټولنیزو ګروپونو په استازیتوب يې غوښتنې د دولت او نورو طبقو او ډلو په وړاندې طرحه کوي، په ملت کې د متفاوتو میلانونو ترمنځ او همدا شان د دولت او افرادو تر منځ د فزیکی ټکرونو او وسله والې جګړې مخه نیسي، عمومی افکاروته د ملي ګټو په طرف حرکت ورکوي او تر انتخاباتو وروسته د انتخاب شوو کسانو پر کړو وړو څارنه کوي. انتخابات سیاسی نظام او واکمنی ته مشروعیت ورکوي او د خلکو د واکمنی غوره بیلګه بلل کیږي. انتخابات له یوې واکمنی څخه بلې ته د لیږد بهیر ته قانونمنه بڼه ورکوي، په ټولنه کې سیاسی ټاکلی کلتور جوړوي، فزیکي او وسله والې نښتې په سوله ایزه سیاسی سیالی اړوی، افرادو ته د خپلې رایې اهمیت څرګندوي او په سیاست کې د عامو خلکو ګډون ته پایښت ورکوي. دموکراسي د جنګ او جګړې کلتور د سوله ایزې مبارزې په کلتور اړوی او د داخلي جګړو، د ملت د مادي او معنوي شتمنیو د له منځه تلو او د خلکو د فقر او بدبختی مخنیوی کوي.

لکه چې یادونه وشوه، د دموکراتیک نظام په جوړښت او چلولوکې ګوندونه لوی رول لوبوی. ګوندونه په ټولنه کې یو لړ دندې لري چې یوه يې په انتخاباتو کې ګډون او د انتخاباتي پروسې په سمون کې برخه اخیستنه ده. ګوندونه په انتخاباتو کې ملت ته د دولتي چوکیو له پاره مناسب کاندیدان وړاندې کوي او په دې توګه د کاندیدانو د شمیر له بې ځایه زیاتوالي مخنیوی کوي. ددې له پاره چې د انفرادي تشتت او ګډوډیو په پایله کې د ملت رایې ضایع نه شي، د ملت تر منځ د ښو کاندیدانو له پاره کمپاین او اقناعي کار کوي، خلک په انتخاباتو کې ګډون ته رابولی او تشکل او انتظام ورکوی. ګوندونه په انتخاباتو کې سیاسی فعالیتونو ته پراختیا ورکوي او د تبلیغ او ترویج له لارې د ټولنې تیت او پرک ځواکونه د ټاکلو موخو د سرته رسولو له پاره تر خپل بیرغ لاندې راټولوي.

په انتخاباتو او انتخاباتي پروسه کې باید ګوندخپل اهداف خلکو ته تشریح کړي، خپل ځان خلکو ته وښئی، خپل پروفایل مشخص او غوره ځانګړنې ټولنې ته روښانه کړي او د خلکو ترمنځ خپل موجودیت څرګند او خپل محبوبیت زیات او وازمایی. د همدې ازموینې په پایله کې د لاسته راغلو نتیجو پر بنسټ ګوند خپل فعالیتونه ارزوي، خپلې تیروتنې اصلاح کوی او د کار په قوي اړخونو لا

ډیر فشار اچوي. که چیرې حزب ونه توانیږی چې د انتخاباتو په بهیرونو کې خپل هدفونه او خپل موجودیت د خلکو له پاره وړاندې کړي، هغه د خلکو له فکرونو او زړونو څخه وزی او د انزوا او هیریدو کندې ته لویږي. په انتخاباتي بهیر کې ګوندونه خپلې مشخصي برنامې خلکوته وړاندې کوي، په ټولنه کې د ستونزو د حل له پاره خپل ابتکار او خلاقیت څرګندوي او د خلکو باور پرځان را اړوي. د انتخاباتي مبارزو د کمپاینونو، د رایی اچولو او ګټلو د بهیرونو څارنه کوي او د ټولې انتخاباتی پروسې په سموالي او شفافیت کې ونډه اخلي. تر انتخاباتو وروسته د هغو د نتیجو او سیاسی ځواک د بدلون بهیر تر خپل نظر لاندې نیسي او په دې اړوند خپل تاریخي فعال رول د غړو د بیداری، سیاسی تعهد او ګوندي ځواکمنی پر بنسټ لوبوي.

په انتخاباتو کې ګوندونه د ولس کتلو ته ځانونه نږدې کوی او د تماس او مفاهمې کانالونه جوړوي، د اړیکو پخوانی تارونه یو ځل بیا نوي کوي او له سره یې محکموي. د خلکو غوښتنې پیژني، تشخیصوي یې، ارزوی یې او له هغو سره د ځان د عیارولو لارې چارې سنجوي. د انتخاباتو په بهیر کې تر هر بل وخت زیات د خلکو غوږونه خلاص وی. د انتخاباتو د کمپاینونو دوران د ګوندي اهدافو د توضیح او تشریح له پاره تر ټولو ښه او مناسب وخت دي او په همدې موده کې د خلکو خلاصو غوږونو ته د ګوندي نظریاتو رسول د هغوی په مغزونو او زړونو کې ښه ځای نیسي.

د انتخاباتو تر مخ او په انتخاباتی بهیر کې ګوندونه ښه چانس لري چې له نورو ګوندونو او سازمانونو سره اړیکې ونیسي، تفاهم وکړي، ائتلافونه جوړ کړی، خپل همفکران او مخالفین ښه وپیژني او خپل موقف نورو ته څرګند، بیلوونکي کرښې کش او د خپلو همفکرانو موقف غښتلی او په هغو کې هم خپل تاریخی او ټولنیز رښتینی ځای وپیژني. د انتخاباتو په بهیر کې ګوندونه دا امکان هم تر لاسه کوي چې د خپل مادی او مالي بنسټ له پاره مرستندویان او د راتلونکو فعالیتونو له پآره دوامداره همکاران ومومي. د انتخاباتو په بهیر کې ګوند د خپلو غړو د جدی فعالیت په څنګ کې له نورو سیاسی، اجتماعی، کلتوری او اقتصادي شخصیتونو سره تماسونه نیولای او د هغوی تر منځ ډیر ښه مشاورین موندلای شي چې له ګوند څخه فکری او نظري ملاتړ وکړي. ګوندونه د رقابتي وضعیت په بدلون او ښه والي کې رول لوبوي، د انتخاباتو فضا په جشني فضا اړولای او ولس په ډیره خوشحالی د انتخاباتو صندوقونو ته تشویق او روانولای شي. د انتخاباتو په بهیر کې ګوندونه تر هر بل وخت زیات خپل کادرونه روزلای شی، شخصیت یې لوړولای شی، ملت ته یې ور پیژندلای او د خپلو کادرونو ښېګنې د نورو په وړاندې ښکارولای شی. د مطبوعاتو او رسنیو سره تماسونه ټینګولای شی او د هغو توجه پخپل لوري را اړولای شی. حزب د انتخاباتو په بهیر کې له نورو سیاسی ګوندونو

سربیره له دولتي واکمنانو او دولتي ارګانونو سره مخامخ او د اړتیا په اندازه کلکي اړیکي نیولای او ساتلای شی. ګوند په انتخاباتو کي د مالي او پولي لګښتونو په بهیر هم نظارت او د مصارفو په قانونی چوکاټونو ټینګار کولای شي. ګوند د انتخاباتو په وخت کي له دولتی مالی حمایت څخه د قانون سره سمه ګټه اخیستلای او له خپله حقه دفاع کولای شي.

په انتخاباتو کې د ګوند یوازینی دنده د کاندید وړاندې کول او یا له یوه کاندید څخه ملاتړ او د هغو بریالی کول نه دي، بلکي په انتخاباتو کي ګوند نورې دندې هم لري چي پاس یې یادونه وشوه. ګوندي رهبري باید په انتخاباتو کې د ګوند دندې په کامپلکسي توګه په نظر کي ونیسي او د خپلو غړو فعالیت او د ولسي تودو د حرکت لوری په همدې عام چوکاټ کې وخوځوي. یوازې یوې موخې ته ډیره توجه او د نورو د یاده ایستل، ځنډول او یا څنګ ته کول د ګوندي رهبری سمه طریقه نه ده.

(نور بیا)